# نرى رنځ يا توبرکلوز

د سویډن د ساري ناروغیو د کنټرول د ډاکټرانو له خوا د ناروغانو لپاره معلومات.

## ولې ماته دا معلومات راکړل شوي دي؟

تاسو د نري رنځ په ناروغۍ اخته یاست، یا داسې شک کېږي چې په دې ناروغۍ اخته یاست او درملنې ته اړتیا لرئ. په دې پاڼه کې د نري رنځ، د دې ناروغۍ د درملنې او په دې اړه چې تاسو باید څه وکړئ، معلومات شته.

## نرى رنځ يا توبرکلوز څه شی دی؟

نری رنځ (یا توبرکلوز چې TBC یا TB هم ورته ویل کېږي) یوه انتاني ناروغي ده چې د Mycobacterium tuberculosis په نوم د یوې باکتریا له امله رامنځته کېږي. د ناروغۍ نښې ډېر ځله د نري رنځ په میکروب له اخته کېدو څخه ډېر وخت وروسته، یعنې څو میاشتې یا څو کاله وروسته، څرګندېږي. ډېر ځله نری رنځ سږي اغېزمنوي، خو د بدن نورې برخې هم پرې اخته کېدای شي، لکه د لمفاوي غدې، د سږو پرده، هډوکي، دماغ یا پښتورګي.

## نری رنځ څنګه نورو ته ځي؟

نری رنځ د هغو کسانو له لارې نورو ته ځي چې په سږو کې نری رنځ لري. کله چې یو کس ټوخی کوي، د نري رنځ باکتریاوې د هوا له لارې په سرېټو ځایونو کې خپرېدای شي او بل کس یې د تنفس له لارې بدن ته داخلوي. نری رنځ تر ډېره د نږدې او اوږدې مودې اړیکو له لارې لېږدېږي. دا ډېره کمه پېښېږي چې یو څوک د لنډې اړیکې یا له چا سره د لنډې او تصادفي/وقفه وي لیدنې له لارې پرې اخته شي.

## څنګه معلومېږي چې یو څوک په نري رنځ اخته دی؟

نښې او ستونزې په دې پورې اړه لري چې د نري رنځ باکتریاوې د بدن په کومه برخه کې وي. عامې نښې یې دا دي: له دریو اوونیو څخه زیات دوام لرونکی ټوخی، د شپې لخوا خولې، تبه او د وزن کمېدل. نورې نښې کېدای شي پړسوبونه وي (د لمفاوي غدو نری رنځ)، یا درد وي (د هډوکو یا د ګېډې نری رنځ).

## نری رنځ څومره ساري دی؟

هغه کسان چې د سږو په نري رنځ اخته وي او د ټوخې په بلغم کې یې د نري رنځ میکروبونه وي، ښايي د درملنې له پیل مخکې نورو ته ډېر ساري وي. د ناروغۍ سرایت د درملنې د لومړیو څو اوونیو په جریان کې ژر کمېږي. هغه کسان چې نری رنځ یې له سږو پرته د بدن په نورو برخو کې وي، نورو ته یې نه لېږدوي. کوچني ماشومان نږدې هېڅکله نری رنځ نورو ته نه لېږدوي. نری رنځ د جامو یا نورو شیانو له لارې نه خپرېږي. نری رنځ په ازاده فضا کې په ندرت خپرېږي.

## ایا نری رنځ خطرناک دی؟

که د نري رنځ درملنه ونه شي، بدن ته د جدي زیانونو لامل کېدای شي او کله ناکله د ژوند لپاره هم ګواښ پېښولای شي. کوچني ماشومان چې په نري رنځ اخته وي او هغه کسان چې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری وي، په ځانګړې توګه د نري رنځ له امله د جدي ناروغۍ له زیات خطر سره مخ وي.

## د نري رنځ درملنه څنګه کېږي؟

د نري رنځ **درملنه** په هغو درملو سره کېږي چې د ناروغۍ لامل کېدونکي میکروبونه له منځه وړي. درملنه کېدای شي څو میاشتې دوام وکړي. ډېره مهمه ده چې تاسو هغه درملنه په سمه توګه تعقیب کړئ چې ډاکټر درته ټاکلې ده.

دا هم مهم دي چې د درملنې پر مهال هېڅ ګولۍ له خوړلو پاتې نه شي. که تاسو درمل په منظم ډول ونه خورئ، میکروبونه کېدای شي د درملو پر وړاندې مقاومت پیدا کړي او د ناروغۍ درملنه لا ستونزمنه شي.

تاسو اړتیا نه لرئ چې د درملو او روغتیايي مرکزونو ته د مراجعې لپاره پیسې ورکړئ.

## د دې لپاره چې نور خلک په ناروغۍ اخته نه کړم، کومو شیانو ته باید پام وکړم؟

نرۍ رنځ د ساري ناروغيو د قانون له مخې د عامې روغتيا لپاره خطرناکه ناروغي ده. له همدې امله، تاسو بايد هغه ځانګړي مقررات رعايت کړئ چې ستاسو ډاکټر يې درته ټاکي. د ماشومانو سرپرستان د دې مسؤول دي چې ماشومان دغه مقررات مراعات کړي.

کېدای شي د دې اړتيا وي چې تاسو د يوې مودې لپاره په روغتون کې بستر شئ، څو نورو کسانو ته ناروغي ونه لېږدوئ.

### هغه مقررات چې بايد يې مراعت کړئ

- که تاسو ساري نرۍ رنځ ولرئ، کار، ښوونځي يا تفريحي فعاليتونو ته نه شئ تللی.
- که ډاکټر درته ويلي وي چې بيا معاينې ته حاضر شئ، بايد په ټاکلي وخت کې بېرته ورشئ.

### دغه مقررات تر کومې مودې پورې اعتبار لري؟

دغه مقررات تر هغې پورې پلي کېږي چې ستاسو ډاکټر ووايي تاسو نور ساري نه ياست.

### ايا فکر کوئ چې تاسو ته ټاکل شوي مقررات سم نه دي؟

تاسو کولی شئ د ساري ناروغيو د کنټرول له خپل سيمه‌ييز ډاکټر څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره د ټاکل شويو مقرراتو پرېکړه بيا وڅېړي. د دې لپاره بايد د خپلې سيمې د ساري ناروغيو د کنټرول له ډاکټر سره اړيکه ونيسئ.

[د ساري ناروغيو د کنټرول د ډاکټر د اړيکې معلومات | د ساري ناروغيو د کنټرول د ډاکټرانو ټولنه (slf.se)]

تاسو همدارنګه کولی شئ په خپله سيمه کې د روغتيايي خدمتونو مرکزي شمېرې ته په زنګ وهلو سره د ساري ناروغيو د کنټرول له ډاکټر سره اړيکه ونيسئ.

تر هغې چې دغه بياارزونه پای ته نه وي رسېدلې، تاسو بايد هغه مقررات مراعات کړئ چې درته ټاکل شوي دي.

## د عفونت د سرچينې او د اړيکو پلټل

د ساري ناروغيو د قانون له مخې، تاسو بايد د ناروغۍ د خپرېدو د تماسونو د معلومولو په بهير کې همکاري وکړئ. دا په دې معنا ده چې تاسو بايد روغتيايي کارکوونکو ته معلومات ورکړئ، څو هغوی معلومه کړي چې تاسو کله، چېرته او څنګه په دې ناروغۍ اخته شوي ياست او ايا امکان شته چې تاسو نورو ته هم انتقال کړې وي. هغه معلومات چې تاسو يې ورکوئ، محرم ساتل کېږي. دا ډېره مهمه ده چې هغه کسان وموندل شي چې په نري رنځ اخته شوي وي، څو هغوی درملنه ترلاسه کړي. يو کس کېدای شي په نري رنځ اخته وي، خو ناروغ نه وي.

## نور معلومات

[1177 (1177.se) | – نرۍ رنځ]